ورځپانه
# مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۲۱مه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۱۱مه |۷۰۶مه گڼه


# د سولې بهیر د چټکتیا هڅې؛

## خلیلزاد: نړیوال د ترکیې په کنفرانس کې له افغان حکومت د واحدې طرحې غوښتونکي دي




خلیلزاد بیا د څه په لټه کې دی؟
۲ مخ

د افغان سولې لپاره د امریکا نوې طرحې ته کتنه
۲ مخ

سرنوشت هزینه های پنتاگون پس از حضور سربازان امریکایی
۵ مخ


## سپینه مانۍ: بایډن به ډېر ژر له افغانستانه د ځواکونو د ایستلو په تړاو خپله پرېکړه اعلان کړي

سپینه مانۍ وایي چې د امریکا ولسمشر جو بایډن به له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د ایستلو پرېکړه تر ټاکلي نېټې مخکې اعلان کړي. د سپینې مانۍ ویاندې جین ساکي دا خبره په واشنګټن کې خبریالانو ته کړې ده. نوموړې ویلي چې د ولسمشر جوبایډن د پرېکړې تر اعلان مخکې څه نه شي ویلی، خو تمه ده چې د مې تر لومړۍ نېټې د مخه یې په خپله له ولسمشر څخه واورئ. د سپینې مانۍ ویاندې دغه راز زیاته کړې، چې په دې اړه له ځو اونیو راهیسې ډیپلوماتیکې هڅې او له طالبانو سره خبرې روانې دي.

د یادونې ده چې د مې تر لومړۍ نېټې له افغانستان څخه د ټولو امریکایي ځواکونو وتل هغه ضرب‌الاجل دی چې د ۲۰۲۰ز کال په فبرورۍ کې د امریکا او طالبانو ترمنځ تړون کې موافقه ورباندې وشوه. طالبان ټینګار کوي چې امریکا باید پر خپله ژمنه عمل وکړي.

په ورته مهال، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو په کور دننه او سیمه‌ییزه کچه نظرونه سره وېشل شوي دي. تازه پاکستان ویلي، چې له افغانستان په بېړه د امریکایي ځواکونو د وتلو ملاتړي نه دي. د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاند زاهد حفیظ ویلي، چې له افغانستان باید د امریکایي ځواکونو وتل مسوولانه وي. د ده په وینا، پاکستان تل د افغانستان د سولې په مسئله کې همکاري کړې او خپلې دې همکارۍ ته به ادامه ورکوي او د دې ملاتړ هم کوي چې امریکایي ځواکونه په مسوولانه توګه او شرایطو ته په کتو له افغانستان ووځي.

## پاکستان: په بېړه د بهرنیو ځواکونو وتل به د افغان سولې بهیر زیانمن کړي




۵ مخ



پوهنتون
۴ مخ


## دانش د لوړو زده کړو موسسه

دانش د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلینو او استادانو د علمي سویې د لوړاوي په موخه، د نظري زده کړو تر څنګ، د عملي زده کړو پروګرامونه هم پیل کړي دي.




## سوداګرۍ وزارت: په کندهار کې د اوړو د تولید په فابریکې شپږ میلیونه ډالره پانګونه شوې



د سوداګرۍ او صنعت وزارت وایي، چې په کندهار کې د میرویس افغان په نوم د اوړو د تولید فابریکې په یو میلیونه ډالره پانګونې فعالیت پیل کړی و او اوس یې پانګه شپږ میلیونو ډالرو ته پورته شوې ده.

دغه وزارت وایي، چې د اوړو د تولید دغه فابریکه په یوه شپه او ورځ کې ٦۰ ټنه اوړه تولیدوي او ۳۰ کسانو ته یې د کار زمینه برابره کړې ده. د یاد وزارت د معلوماتو په اساس، دغه فابریکه د خپلې اړتیا وړ غنم له کورنیو سرچینو او بهر څخه برابروي. د دغه وزارت چارواکو ټینګار کړی، چې د افغانستان د اقتصادي ودې او پر ځان د بسیا کېدو لپاره به افغان حکومت له خصوصي سکتور څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.

د یاد وزارت د چارواکو په خبره، دوی هڅه کوي چې په هېواد کې د افغان پانګوالو پر وړاندې پرتې ستونزې له منځه یوسي ترڅو افغان پانګوال وکولی شي چې د بهرنیو هېوادونو پر ځای په کور دننه پانګونه وکړي.

## آتش‌سوزی تانکرهای گاز در هرات حدود یک میلیون دالر خسارت مالی برجای گذاشت



مقام‌های محلی هرات می‌گویند که به دنبال آتش‌سوزی در ذخیره‌گاه گاز مایع در شمال هرات، ۱۰ تانکر گاز در آتش سوخته است.

جیلانی فرهاد، سخنگوی والی هرات می‌گوید که آتش‌سوزی طی سه ساعت با همکاری تیم آتش‌نشانی فرمان‌دهی قول اردوی ۲۰۷ ظفر مهار شد. به گفته او، آتش‌سوزی ساعت ۷:۰۰ صبح دیروز در پی عدم رعایت نکات ایمنی در هنگام انتقال گاز مایع از یک تانکر به تانکر دیگر آغاز شد و یک مجروح برجای گذاشت.

تصاویری که از دقایق نخست آتش‌سوزی در شبکه‌های اجتماعی نشر شده نشان می‌دهد که چندین تانکر گاز در حال منفجر شدن است. در همین حال، ظاهرشاه توخی، رییس اتحادیه واردکننده‌گان گاز مایع هرات، می‌گوید که در پی این رویداد یک تانکر نفت، یک تانکر گاز مایع، حدود ۱۵ تا ۲۰ تانکر خالی گاز مایع و تاسیسات ذخیره گاز در آتش سوخته است.

او افزود که بر اساس بررسی‌های ابتدایی، آتش‌سوزی حدود یک میلیون دالر خسارت مالی برجای گذاشته است. در منطقه کمرکلاغ شهر هرات، ده‌ها شرکت و ذخیره‌گاه گاز مایع و نفت فعالیت دارند. چند سال پیش نیز آتش‌سوزی در یک شرکت گاز در این منطقه، سه کشته و خسارت‌های مالی هنگفتی برجای گذاشته بود.




سرلیکنه

## خلیلزاد بیا د څه په لټه کې دی؟

د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی پرون کابل راغی او دلته یې له چارواکو او سیاستوالو سره کتلي دي. د دغو لیدنو په اړه په رسمي ډول دومره ویل شوي، چې خلیلزاد له چارواکو سره د ترکیې پر غونډه خبرې کړې او غوښتنه یې کړې چې باید د سولې هڅې چټکې شي. دغه راز ویل شوي چې خلیلزاد له ډاکټر عبدالله سره په لیدنه کې ویلي چې د جمهوریت پلاوی باید له واحدې طرحې سره ترکیې ته ولاړ شي؛ ځکه چې دا د نړیوالې ټولنې غوښتنه ده.

واک ته د جوابیانو له رسېدو وروسته د خلیلزاد تر ګردو مهم ماموریت دا دی، چې افغان اړخونه په یوه لویه غونډه کې را ټول کړي او یو توافق ته یې ورسوي. له همدې امله په دې وروستیو کې نوموړی د کابل، دوحې، انقرې او اسلام اباد ترمنځ ګرم سفرونه لري. امریکایانو هڅه کوله چې د ترکیې ناسته د مارچ په ۲۷مه وکړي، بیا دا خبره د اپرېل ۱۶مې ته وځنډېدله، خو اوس ښکاري چې د اپرېل په ۱۶مه به هم دا غونډه نه کېږي. خلیلزاد هڅه کوي چې په چټکۍ سره د غونډې پر وړاندې شته خنډونه له منځه یوسي او د همدې لپاره په وروستیو کې په چټکۍ سره پټ او ښکاره سفرونه کوي.

د ترکیې د غونډې پر وړاندې تر ګردو ستر خنډ دا دی چې طالبان وایي، امریکا باید د دوحې د هوکړې پر اساس له دوی سره کړې ژمنې عملي کړي. د بهرنیو ځواکونو وتل، له تور لېسته د طالب مشرانو ایستل او د پاتې طالب بندیانو خوشې کول، د دغو ژمنو اساسي برخې دي. امریکا غواړي د دغو ژمنو له پوره کولو وړاندې طالبان له افغان حکومت او سیاستوالو سره جرګه کړي او یوې بین الافغاني هوکړې ته یې ورسوي، خو طالبان غواړي چې یو ځل باید دا ژمنې پوره شي، بیا دا غونډه وشي. له همدې امله دا غونډه ځنډېږي. اوس ښکاري چې امریکا طالبان قانع نه شوای کړلی چې د ترکیې په غونډه کې له شرط پرته ګډون وکړي، نو ځکه هڅه کوي چې د طالبانو ځینې غوښتنې عملي کړي. خلیلزاد پر حکومت فشار راوړي چې د طالب بندیانو د خوشې کولو لړۍ پیل کړي او له تور لېسته د طالب مشرانو د اېستلو کار په رسمي ډول پیل کړي. له همدې امله کابل ته راغلی او دلته به یې د بحث اساسي موضوع همدا وي. امریکا نه غواړي چې دا ژمنې ټولې پوره شي، خو غواړي چې په دې برخه کې یو څه پرمختګ وشي، څو یې طالبانو ته وړاندې کړي او هغوی قانع کړي چې د ترکیې په غونډه کې ګډون وکړي. دا ښکاره ده چې دا ټولې ژمنې نه امریکا عملي کوي او نه هم په لنډ وخت کې عملي کېدلی شي، خو امریکا غواړي چې یو څه وکړي او یو څه هم طالبان له خپلو خبرو تېر کړي. که د بندیانو په خوشې کولو او له تور لېسته د طالب مشرانو په ایستلو کې پرمختګ وشي، نو امریکا به بیا له طالبانو وغواړي چې د یو څه وخت لپاره نور هم بهرني ځواکونه ومني. دا چې طالبان یې مني او که نه، لا معلومه نه ده.

امریکا غواړي د ترکیې غونډه ژر وشي، له همدې امله بیا هم کابل ته راغلی دی او ټوله هڅه یې دا ده چې په چټکۍ سره د دې غونډې پر وړاندې شته خنډونه لرې کړي او خپلې موخې ته ورسېږي.

# د افغان سولې لپاره د امریکا نوې طرحې ته کتنه

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

**مقدمه**

د امریکا متحده ایالاتو تېره میاشت د افغانستان د سولې لپاره داسې طرحه وړاندې کړه، چې له مخې یې باید د افغانستان د سولې پروسه ګړندۍ شي او ښکېل لوري جوړجاړي ته سره ورسېږي. په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو د کومې ځرګندې پایلې او لاسته راوړنې نشتون او په ورته وخت کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د شوې هوکړې له مخې د بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو د مودې رانږدې کېدل د دغې طرحې د وړاندې کولو اساسي لامل دی.

په دې طرحه کې، چې د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له لوري له افغان حکومت، سیاسي رهبرانو او طالبانو سره شریکه شوې، د حکومت او طالبانو ترمنځ د سیاسي توافق ډول او ځرنګوالی وړاندیز شوی او ټاکل شوې په روانه اپرېل میاشت کې د ترکیې په استانبول کې د ښکېلو لورو لخوا بحثونه پرې وشي.

د افغانستان د قضیې پېچلتیا او بېلابېلو ابعادو ته په کتو سره او د روانې وینې تویېدنې د مخنیوي لپاره ګومان کېږي چې د دغې قضیې هوارۍ همداسې یوې طرحې ته اړتیا لري او له دې پرته به د سولې روان بهیر نور هم اوږدېږي او جګړه به ورسره غځېږي؛ ځکه په دوحه کې د بین الافغاني خبرو اترو له ځرنګوالي ښکاري چې دا پروسه په اوسني ډول ښایي ډېره ځنډنۍ او جنجالي شي. خو بیا هم جدي اړتیا ده چې د عجولانه تصمیمونو له کبله د راتلونکو احتمالي ناخوالو او ګواښونو مخنیوی وشي.

په همدې موخه دلته د امریکا د متحده ایالاتو له لوري د افغانستان د سولې لپاره وړاندیز شوې طرحې ته لنډه کتنه شوې او په دې طرحه کې شته نواقصو ته په کتو سره، د افغان قضیې د هوارې لپاره اړین وړاندیزونه شوي دي.

**د افغانستان د سولې لپاره د امریکا نوې طرحه**

د دغې طرحې په سر کې لنډه توضیح روښانوي، چې د طرحې هدف د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو چټکوالی دی څو دواړه لوري مشخصاً پر هغو اساسي موضوعاتو تمرکز وکړي، چې باید توافق پرې وشي. توضیح کاږي چې په طرحه کې د جګړې د دواړو لورو نظریات او لومړیتوبونه په پام کې نیول شوي. په طرحه کې د ښکېلو اړخونو ترمنځ د سیاسي جوړجاړي لپاره د حکومتولۍ، امنیت او د قانون حاکمیت لپاره اصول او همدا راز د جګړې د پای ته رسولو لپاره د دواړو لورو ترمنځ د واک شریکولو لارې چارې وړاندیز شوې دي. دا طرحه (د افغانستان د سولې توافقنامه) په عنوان په دریو برخو کې چمتو شوې ده. لومړی: د نوي اساسي قانون او د افغان دولت د راتلونکي لپاره لارښود اصول. دویم: د سولې انتقالي حکومت او د سیاسي لارې نقشه. درېیم: دایمي او هراړخیز اوربند او د هغه پلي کول.

**لومړی: د افغانستان د راتلونکي لپاره لارښود اصول**

د طرحې په لومړۍ برخه کې هغه اصول او کلیات په ډاګه شوي، چې له مخې به یې مذاکرات، د سولې توافق، د دغه توافق عملي کول او ترې وروسته سیاسي نظم تنظیمېږي. په حقیقت کې دا برخه د افغانستان د راتلونکي اساسي قانون مبنا په ډاګه کوي.

د دغې برخې په لومړي بند کې راغلي، چې د افغانستان د راتلونکي دولت رسمي دین به اسلام وي او د (اسلامي فقهې عالي شورا) په نوم شورا به ټولو ملي او محلي حکومتي جوړښتونو ته اسلامي مشورې ورکوي. خو په ورته وخت کې قضایه قوه د اساسي قانون د منازعاتو او د اسلامي قوانینو د تفسیر په ګډون، د حقوقي اختلافاتو په اړه د تصمیم‌نیونې د نهایي مرجع په توګه وړاندیز کوي.

په دې اړه باید ووایو چې یوازې دا کفایت نه کوي چې په دې تصریح شوې وي چې د دولت رسمي دین به اسلام وي. باید په اساسي قانون کې د دې تصریح موجوده وي چې ټول قوانین به د اسلامي شریعت له احکامو سره برابر جوړېږي او هیڅ قانون له اسلامي شریعت سره په ټکر کې نشي جوړېدلی او د اساسي قانون دا ماده تعدیلېدلی هم نه شي. همدا راز دا ماده باید د اساسي قانون پر ټولو موادو حاکمیت ولري، څو په اساسي قانون کې هم باید داسې کومه ماده ځای پرځای نه شي، چې له اسلامي شریعت سره په ټکر کې وي او نه په داسې توګه تفسیر کړای شي چې له شریعت سره په ټکر کې واقع شي.

د دې طرحې پر بنسټ، د افغانستان راتلونکی اساسي قانون به د بیان آزادي او د افغانانو مدني، سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حقوق لکه د حکومت او د هېواد د زعامت انتخاب او داسې نور حقوق تضمینوي او راتلونکی دولت به د خلکو ارادې، ملي وحدت، ځمکنۍ بشپړتیا او اسلامي ارزښتونو ته احترام کوي. همدا راز د دغې برخې څلورم بند کاږي چې راتلونکی اساسي قانون به په ټولو سیاسي، اجتماعي، اقتصادي، تعلیمي او کلتوري برخو کې د ښځو او ماشومانو حقوق تضمینوي.

په دې برخه کې وړاندې په پنځم بند کې راغلي، چې د تعلیمي او امنیتي بنسټونو په ګډون، د افغانستان ملي بنسټونه او عامه تاسیسات په ټولو افغانانو پورې اړه لري او باید په رسمیت وپېژندل شي، وساتل شي او تقویت یې تضمین شي.

دا قضیه سره له دې چې ډېره مهمه ده، خو د هغو بنسټونو له جملې څخه نه ده چې په اساسي قانون کې ځای پرځای شي.

د انتقالي عدالت په اړه هم په دې طرحه کې بحث شوی او په مجموعي توګه د راتلونکي دولت له لوري د تېرو ۴۲ کلونو د قربانیانو پر ملاتړ ټینګار شوی، چې داسې ښکاري د انتقالي عدالت په برخه کې پخواني جهادي مشران او طالبان په یوه ردیف کې راوستل شوي، څو هېڅوک د برائت ادعا ونه شي کړای او تل تر یو ډول فشار لاندې وي.

د افغانستان د راتلونکي دولت د رسمي سیاست په توګه پر بې طرفۍ او د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره پر دوستانه اړیکو او د نورو پر ضد د افغانستان د خاورې پر نه کارېدو ټینګار شوی، چې په حقیقت کې دا هماغه د طالبانو له لوري امریکا ته ورکړل شوې تضمین دی. همدا راز په دې برخه کې له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د همکاریو پر دوام ټینګار شوی چې په مقابل کې به یې افغانستان حساب ورکونې او شفافیت ته متعهد وي او له اداري فساد او نشه‌یي توکو سره په مبارزه کې به لازم اقدامات کوي.

د دغې طرحې پر بنسټ به د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د نوي اساسي قانون په جوړولو کې د لومړنۍ نمونې په توګه کارول کېږي او راتلونکی دولت به یو واحد او مستقل دولت وي، چې ورسره هېڅ موازي حکومت او یا امنیتي ځواکونه باید نه وي.

**دویم: د سولې انتقالي حکومت او د سیاسي لارې نقشه**

دا طرحه وړاندیز کوي، چې د توافقنامې له لاسلیک کېدو سره به د سولې انتقالي حکومت جوړېږي، چې د نوي اساسي قانون له تصویب وروسته منتخب او دایمي حکومت ته د واک د لېږد تر وخته به د هېواد چارې سمبالوي. د توافق د لاسلیک نېټه او د موقت حکومت موده مشخصه نه ده او کاږي چې د نوي اساسي قانون د تصویب تر وخته به شته قوانین، فرامین او مقررات چې د توافقنامې له موادو سره په ټکر کې نه وي، په هېواد کې نافذ وي. د انتقالي حکومت اداره به درې جلا او مساوي شاخې (اجرایه اداره، ملي شورا، قضایه قوه) ولري او د اسلامي فقهې عالي شورا او د نوي اساسي قانون د تدوین کمېسیون به هم ورسره ضمیمه وي. طرحه کاږي، چې د سولې د انتقالي حکومت په اداراتو کې ټولې ټاکنې به په عادلانه توګه د دواړو لورو د توافق له مخې کېږي او په حکومت کې به د ښځو معنادار حضور ته ځانګړې توجه کېږي.

په دې اړه باید ووایو چې د انتقالي حکومت موده باید لنډه وي، ځکه هرڅومره چې دا موده اوږدېږي، په هماغه اندازه د فساد لپاره زمینه برابرېږي. ښایي د استانبول په کنفرانس کې ځینې سیاسي لوري په دې پلمه چې د افغانستان شرایطو ته په کتو اړتیا ده، چې دا موده زیاته وي څو اړین بدلونونه په سم ډول پلي شي، خو دا چاره ښایي د هېواد وضعیت ناسم لوري ته بوځي. هرڅومره ژر چې له انتقالي دورې وروسته منتخب حکومت حاکمېږي، همدومره به د شخړو او ستونزو مخنیوی کېږي.

دا طرحه د سولې د انتقالي حکومت لپاره دوه آپشنونه وړاندیز کوي. لومړی دا چې اجرایه اداره د دولت له رییس، مرستیالانو (چې شمېر یې مشخص شوی نه دی)، د کابینې وزیرانو، مستقلو ریاستونو او نورو ادارو څخه جوړه وي. دویم آپشن دا دی، چې اجرایه اداره د دولت له رییس، لومړي وزیر، مرستیالانو، د کابینې وزیرانو، مستقلو ریاستونو او نورو ادارو څخه جوړه وي. خو دا طرحه د لومړي آپشن پر بنسټ جوړه شوې او که دواړه لوري پر دویم آپشن توافق کوي، طرحه به هم د صلاحیتونو په برخه کې بدلون مومي. د طرحې له مخې، ټول چارواکي به د دواړو لورو په خوښه ټاکل کېږي او د موقت دولت رییس او مرستیالان به په راتلونکي کې د دولت ریاست ته ځان نشي کاندیدولی. د دولت رییس به اعلی سرقمندان وي، خو یو مشترک نظامي بورډ به د دواړو اړخونو له استازو جوړېږي، چې په امنیتي بنسټونو کې د لازم اصلاحات او د ادغام چارې مخته یوسي. همدا راز به د نورو بېلابېلو اهدافو لپاره بېلابېلې کمېټې جوړېږي او د بشري حقونو کمېسیون به د طالبانو د استازو په زیاتېدو سره دوام کوي.

د ملي شورا په اړه هم دا طرحه دوه آپشنونه وړاندې کوي. لومړی دا چې د ملي شورا پر اوسنیو غړو به د طالبانو استازي هم ورزیاتېږي (چې شمېر یې مشخص شوی نه دی) او د سولې د انتقالي حکومت د دورې تر پایه به کار ته دوام ورکوي. دویم آپشن دا دی، چې ملي شورا به د سولې د انتقالي حکومت په دوره کې د تعلیق په حالت کې وي او د قانون جوړونې چاره به اجرایه اداره مخته وړي؛ خو د هغوی حقوق او امتیازات به جاري وي.

په دې اړه ډېری د نظر خاوندان په دې اند دي، چې بهتره دا ده چې ملي شورا له ځینو بدلونونو سره وساتل شي او رول ورکړل شي. سره له دې چې د ملي شورا په جوړښت کې د نوو غړو شاملېدل او د هغوی د مشروعیت په اړه پوښتنې هم شته دي؛ خو په انتقالي دوره کې دا د یوه ملي او ولسي جوړښت په حیث رغنده او مثبت رول لوبولی شي؛ په ځانګړې توګه کله چې د طالبانو لخوا د معرفي کېدونکو غړو له لارې تکمیل شي، نو موجودیت به یې د ډېرو ستونزو د راکمېدو لامل شي.

د قضایه قوې په برخه کې هم طرحه وړاندیز کوي چې دا برخه به ستره محکمه، استیناف محکمه او نور محاکم لري، خو دواړه لوري به په مساویانه ډول سترې محکمې ته کسان معرفي کوي. ستره محکمه به د اساسي قانون او حقوقي اختلافاتو په برخه کې د نهایي او الزامي تصمیمونو صادروونکی ارګان وي. د اسلامي فقهې عالي شورا به هم ۱۵ غړي لري چې ۷ غړي به یې طالبان، ۷ غړي حکومت او یو غړی د سولې د حکومت د رییس له لوري معرفي کېږي او دا شورا به د قوانینو او مقرراتو ټولې مسودې له اسلامي عقایدو او احکامو سره د تطابق لپاره څېړي.

په دې طرحه کې پر نورو ملي او محلي جوړښتونو هم بحث شوی. د بېلګې په توګه، د دولت رهبري شورا، یا هم د محلي حکومت اجرایه اداري او ولایتي شوراګانې، چې نوي غړي به د طالبانو له لوري ورته معرفي کېږي او د ښځو ګډون او قومي توازن ته به پکې توجه کېږي او که د دواړو لورو توافق پرې ونه شي، دا به هم د ملي شورا په څېر د دویمې ګزینې په توګه د تعلیق حالت ته ځي.

د نوي اساسي قانون د تدوین لپاره به د توافقنامې تر لاسلیک ۳۰ ورځې وروسته یو ۲۱ کسیز کمېسیون جوړېږي، چې ۱۰ – ۱۰ غړي به یې طالبان او حکومت معرفي کوي او یو غړی به یې د موقت دولت رییس معرفي کوي او د اساسي قانون مسوده به لویې جرګې ته وړاندې کېږي. د اساسي قانون له تصویب وروسته به د ټاکنو کمېسیون جوړېږي.

**درېیم: دایمي او هر اړخیز اوربند**

د دغې طرحې پر بنسټ، د جګړې دواړه لوري به د توافقنامې تر لاسلیک څو ساعته وروسته د ټولو نظامي، تهاجمي او خصمانه عملیاتو پای ته رسول اعلانوي او که کوم اړخ د مقابل لوري د تهاجمي حرکت په صورت کې دفاعي اقدام ته هم اړ کېږي، فوراً به د اوربند کمېسیون ته خبر ورکوي. د سولې حکومت به د توافقنامې د تطبیق په لاره کې د هر ډول مسلحانه مخالفت مخنیوی کوي.

په دې طرحه کې د بېلابېل ډوله نظامي فعالیتونو یادونه شوې، چې باید ودرېږي او همدا راز طالبان باید متعهد شي چې خپل دفترونه به افغانستان ته لېږدوي او له نورو هېوادونو سره به اړیکې پرې کوي. د اوربند د څار کمېسیون به فوراً جوړېږي او ۹ غړي به لري، چې ۸ غړي یې د دواړو اړخونو له لوري او نهم به د دولت د رییس له لوري معرفي کېږي. همدا راز به ۳ ناظر او مستقل غړي د ملګرو ملتونو له لوري د دغه کمېسیون ضمیمه وي. د سولې حکومت به یوه ناظر نړیوال ماموریت ته بلنه ورکوي، چې د اوربند په تطبیق کې مرسته وکړي.

**د افغان سولې لپاره د امریکا د طرحې ارزونه**

په مجموعي توګه تېرو تجربو ته په کتو سره داسې ښکاري چې د افغانستان د قضیې د پېچلتیا له کبله د دغې قضیې حل بېرونۍ مداخلې ته اړتیا لري او که د بین الافغاني مذاکراتو بهیر په اوسني ډول او له نړیوالو فشارونو پرته روان وي، ښایي دا مذاکرات لږ تر لږه په لنډ وخت کې پایله ونه لري. له دې کبله اړتیا ده چې د نړیوالو په مرسته افغان جهتونه په اساسي موضوعاتو کې توافق ته سره ورسېږي. د سولې د توافق لپاره دا چمتو شوې مسوده هم تر ډېره ښایي له اوسنیو شرایطو سره برابره وي، خو بیا هم ځینې داسې مسایل پکې شته، چې که توجه ورته ونه شي، ښایي د سولې د توافق لپاره د بحثونو پر مهال او یا هم تر لاسلیک وروسته ستونزې رامنځته کړي.

تر ډېره حده د دغې توافقنامې اړخونه (دوه) یاد شوي یانې افغان حکومت او طالبان. داسې ښکاري چې دا چاره په یو ډول له دوو لسیزو مخکې تېروتنو سره مشابه تېروتنه ده. هغه مهال هم د بُن کنفرانس پر مهال ځینې افغان جهتونه د واک او تصمیم‌نیونې له دایرې د باندې پرېښودل شول. په اوسنې...

۳ مخ

# د افغان سولې لپاره ...

وخت کې هم که له طالبانو پرته نور ټول اړخونه د افغان حکومت په نوم حسابېږي، ښايي واقعبينانه نه وي، ځکه عملاً ډېرى سياسيون او جريانونه د حکومت د پاليسيو خلاف ولاړ دي او د حکومت پرېکړې به ورته د منلو نه وي.

په دې طرحه کې د اسلامي فقهې د عالي شورا تر نوم لاندې جوړښت هم ښايي ځينې ستونزې رامنځته کړي. که څه هم په دې طرحه کې د هېواد قضايه قوه د حقوقي اختلافاتو پر مهال د نهايي او الزامي تصميمنيوونکي ارګان په توګه معرفي شوې؛ خو بيا هم دا ډاډ بايد حاصل شي چې دا شورا به د فتوا مرجع نه وي، څو د احتمالي ستونزو د رامنځته کېدو مخنيوى وشي.

د اسلامي فقهې د عالي شورا د رامنځته کولو په اړه شايد د سعودي عربستان هيئة کبار العلماء نمونه په مخ کې اېښودل شوې وي، چې هغه په خپله يوه ناکامه تجربه ده او يوازې د مستبدو او ظالمو حاکمانو د ناروا فيصلو د توثيق د يوې وسيلې په توګه کار ترې اخيستل کېږي. دلته هم د دې احتمال شته چې په راتلونکي کې دا جوړښت هم د همداسې اهدافو لپاره استعمال شي. له بله پلوه افغانستان د قوانينو د اسلامي ساتلو لپاره يوه داسې جوړښت ته اړتيا لري چې هغه د اساسي قانون له مخې حصانت او خونديتوب ولري. دا جوړښت که د يوه داسې کمېسيون په شکل کې وي چې فيصلې يې ملزمې وي او غړي او رياست ټول يې د ملي شورا له لوري د يوه ځانګړي ميکانېزم له لارې وټاکل شي او يا هم د دې کار لپاره يوه محکمه ايجاد شي چې په ډېرو هېوادونو کې شته او د اساسي قانون ستره محکمه بلل کېږي.

د فتوا د مرجعيت په اړه بايد ووايو چې دا يو اختياري مرجعيت دى، سره له دې چې فقهاوو د دې تصريح کړې چې حکومت مفتي ټاکلی شي؛ خو هغه يوازې د دې لپاره وي چې د خلکو لپاره سهولتونه رامنځته کړي او يا هم که قاضي په شريعت او فقه کې ژور فهم ونه لري، سمې فيصلې ته د رسيدلو په اړه ورسره همکاري وکړي او په فقهي او اجتهادي قضاياوو کې له هغه څخه مشوره واخلي او مشوره يې ملزمه وي. د اصول فقهې علماء په دې تصريح کوي چې که د حکومت له لوري مفتي ټاکل شوی هم وي، بيا هم يوازې هماغه مفتي ته د فتوا لپاره رجوع لازمه او ضروري نه ده، بلکې د مفتي اختيار د مستفتي حق دی، خو که د فقهې د عالي شورا له ټاکلو وروسته حکومت په دې اصرار ولري چې همدا د فتوا يوازينۍ مرجع ده، نو د دې په نتيجه کې د ديني او فکري استبداد لپاره لاره هوارېږي. له بل پلوه د فتوا لپاره د يوه مشخص مرجعيت د رامنځته کولو په نتيجه کې د ولسي علمي ازادو او مستقلو مراکزو د رشد مخنيوى کوي.

د دې ترڅنګ، په دې طرحه کې د سولې د هوکړه ليک د پلي کولو لپاره ميکانيزم داسې ښکاري چې ښايي ستونزې ترې راولاړې شي او د هېواد وضعيت د هرج و مرج په لوري ولاړ شي. همدا راز د سولې د حکومت له جوړېدو وروسته له افغانستان سره د نړيوالې ټولنې د همکاريو په اړه هم کوم جدي بحث په دې طرحه کې نه دی شوی. حال دا چې هغه مهال تر اوسنۍ مرحلې په څو چنده زياتو مرستو او همکاريو ته اړتيا ده، څو دا توافق د برياليتوب په لوري ولاړ شي.

سره له دې چې په دې طرحه کې د افغانستان پر ناپېيلتوب ټينګار شوی او ويل شوي چې د افغانستان خاوره به د بل چا پر ضد نه کارول کېږي، مګر د دې ميکانيزم نه دی روښانه شوی چې نړيوال او سيمهييز قوتونه او ګاونډي هيوادونه به د کوم توافق له لارې د افغانستان په داخلي چارو کې له لاسوهنو منع کېږي، ځکه که داسې يوه توافقنامه، چې دا هېوادونه پرې لاسليک وکړي، رامنځته نه شي په افغانستان کې سوله او ثبات نشي راتللی، ځکه چې د افغانستان د کشالې يو لوی لامل د بهرنيانو حضور او د ګاونډيو هېوادونو لاسوهنې دي. نړيواله ټولنه بايد په دې اړه جدي پاملرنه وکړي او دا بايد د استانبول د ناستې يوه نتيجه وي.

**وړانديزونه**

د افغانستان د سولې لپاره د امريکا د متحده ايالاتو له لوري وړاندې شوې طرحه په اوسني وخت کې تر ډېره حده مناسبه حللاره ده؛ خو بيا هم د دغې طرحې په اړه ځينې اندېښنې شته دي. په دې تړاو لاندې څو نکات د پام وړ دي:

۱ـ د سولې د انتقالي حکومت طرحه په اوسني وخت کې معقوله طرحه ده او اړتيا ده چې ټول ښکېل لوري د دغې کشالې د پای ته رسولو لپاره د موقت حکومت له راتګ سره مخالفت ونه کړي.

۲- د دغې طرحې روحيې ته په کتو سره، د طالبانو او حکومت ترمنځ د ۵۰ – ۵۰ سلنه قدرت د تقسيم په قضيه کې داسې وېره شته، چې يو ځل بيا د بُن کنفرانس تجربه تکرار نه شي. له دې کبله د ټولو افغان جهتونو جدي او معناداره ښکېلتيا خورا حياتي قضيه ده او بايد توجه ورته وشي.

۳- که څه هم په دې طرحه کې د سولې د انتقالي حکومت موده نه ده مشخصه شوې، خو د هېواد وضعيت ته په کتو سره اړتيا ده چې د انتقالي حکومت موده کمه وي، ځکه څومره چې د انتقالي حکومت موده اوږدېږي، همدومره د قضيې پېچلتيا، د بېلابېلو لورو لاسوهنو او فساد ته لاره برابرېږي.

۴- په ورته وخت کې د انتقالي حکومت په اړه داسې اندېښنې شته دي، چې ښايي د نظام د پاشل کېدو لامل شي. په دې تړاو اړتيا ده چې د نړيوالې ټولنې همکارۍ په جدي او پراخه کچه دوام وکړي، څو اداري بنسټونه او ارګانونه ونه پاشل شي.

۵- د اسلامي فقهې د شورا په نوم جوړښت په اړه داسې اندېښنې شته چې ښايي په راتلونکي کې د فتوا د يوازينۍ مرجع په توګه مطرح شي او ستونزې راولاړې کړي. په دې تړاو دا صراحت پکار دی چې دا به د فتوا مرجع نه وي، بلکې يوازې د قوانينو د اسلامي کولو او د اسلامي شريعت خلاف قوانينو د جوړېدو د مخنيوي لپاره د يوه کمېسيون په توګه بايد کار وکړي.

٦- په دې طرحه کې همدا راز د سولې له توافق وروسته د نړيوالو، سيمه ييزو او ګاونډيو هېوادونو د لاسوهنو د مخنيوي لپاره کوم مېکانېزم نه دی وړاندې شوی، حال دا چې د روانې جګړې اساسي او ستر لامل همدا لاسوهنې دي. په دې تړاو روښانه او واضح تګلاره پکار ده.

۷- په ټوله کې، اوسمهال تر ټولو ډېر د اعتماد فضا رامنځته کولو اړتيا ده، چې د سولې د انتقالي حکومت له لارې ممکن دی او په ملي او نړيواله کچه بايد ټول ښکېل لوري د اعتماد جوړولو ته کار وکړي او له جګړهييزو ادبياتو ډډه وکړي.

# د سولې بهیر د چټکتیا هڅې؛

## خلیلزاد: نړیوال د ترکیې په کنفرانس کې له افغان حکومت د واحدې طرحې غوښتونکي دي



د ترکيې د کنفرانس له را نږدې کېدو سره هممهاله د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خليلزاد کابل ته راغلی دی. نوموړي پرون له ولسمشر غني سره دوه ځلې او د ملي مصالحې عالي شورا له مشر او غړو سره کتلي دي. په دې ليدنو کې تر ډېره تمرکز پر افغان سوله، سيمهييزه اجماع او د ترکيې پر راتلونکي غونډې شوی دی. امريکايي لوري ويلي چې دوی د افغانانو تر څنګ ولاړ دي او افغان حکومت بايد له يوې واضېح طرحې سره د ترکيې په کنفرانس کې ګډون وکړي.

وروسته له هغه چې د دوحې د سولې بهير له ځينو خنډونو سره مخ شو او ځنډ پکې رامنځ ته شو، نو امريکا وغوښتل چې د افغانستان د سولې په مسئله کې ملګري ملتونه هم دخيل کړي. له همدې امله دا پرېکړه وشوه چې د افغان سولې لپاره به د ملګرو ملتونو په حضور کې په ترکيه کې غونډه جوړېږي. په دغه غونډه کې به طالبانو او افغان حکومت مخامخ خبرې کوي، دا به د دوحې د بهير موازي بهير نه وي، بلکې ستره موخه يې د دوحې بهير چټکول دي. اوس تازه په همدې تړاو د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړی استازی افغانستان ته راغلی دی. هغه په ارګ کې له ولسمشر غني او د ملي مصالحې عالي شورا له رييس ډاکټر عبدالله عبدالله سره کتلي دي.


زلمي خليلزاد لومړی تر غرمې مخکې له ولسمشر غني سره وکتل او دا ليدنه د دواړو ترمنځ د پلاوي له حضور پرته ترسره شوې وه. په دې ليدنه کې د سولې پر وروستيو پرمختګونو او د استانبول پر راتلونکي کنفرانس خبرې شوې وې. خليلزاد او مل پلاوي يې بيا مازيګر مهال يو ځل بيا له افغان ولسمشر او د کابينې له ځينو غړو سره د دويم ځل لپاره ليدنه کړې ده. په دې ليدنه کې دواړو لورو د سولې پر وروستيو پرمختګونو او راتلونکو اقداماتو بحث کړی دی. د ارګ له لوري په خپره شوي اعلاميه کې راغلي: «په دغه کتنه کې چې نن مازديګر په ګلخانې ماڼۍ کې وشوه، دواړو لوريو په ترکيه کې د جوړېدونکي کنفرانس، د هغه د مهالوېش، د ياد کنفرانس ګډونوالو د ليست پر نهايي کولو او وروستيو تياريو په اړه مفصل بحث او خبرې وکړې».

ارګ د يادې ليدنې په اړه لا ډېر معلومات نه دي ورکړي، خو د ملي مصالحې عالي شورا له لوري په خپره شوي اعلاميه کې راغلي چې خليلزاد له ډاکټر عبدالله او د ملي مصالحې عالي شورا له نورو غړو سره کتلي دي. په دې ليدنه کې د استانبول پر کنفرانس چې په نږدې ورځو کې به جوړېږي او دغه راز د داخلي اجماع تر څنګ پر سيمه ييزه اجماع هم خبرې شوې دي. زلمي خليلزاد ويلي چې امريکا اوس او د سولې تر تامين وروسته د افغانانو تر څنګ ولاړ ده او د دوی ملاتړ ته به ادامه ورکوي. د خليلزاد په خبره، د امريکا ستره موخه دا ده چې په افغانستان کې روانه جګړه ژر تر ژره د خبرو له لارې ختمه کړل شي او له رامنځ ته شوي فرصت ګټه پورته کړل شي.

خليلزاد دغه راز ويلي چې نړيوال د ترکيې په کنفرانس کې له افغان حکومت د يوې قوي طرحې د وړاندې کولو هيله لري. د خليلزاد په خبره امريکا د افغانستان د سولې لپاره له ټولو پيل شوو هڅو هر اړخيز ملاتړ کوي او نړيوال تمه لري چې افغان حکومت به د ترکيې په غونډه کې يوه واحده طرحه وړاندې کړي. سرچينه کاږي: «امريکا به د سولې په هڅو او له سولې وروسته د افغانانو ترڅنګ وي».

نوموړي په خپلو خبرو کې وويل، نړۍ تمه لري، چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت به د يوې واحدې طرحې سره د استانبول کتفرانس کې ګډون وکړي. خليلزاد له افغان حکومت غوښتي چې په يوه خوله د ترکيې په غونډه کې ګډون وکړي او ټول اړخونه دې په دغه کنفرانس کې يو واحد دريځ وړاندې کړي. له دې سره هممهاله د ملي مصالحې عالي شورا وايي چې دوی د سولې لپاره د وړاندې شوو طرحو د توحيد په برخه کې کوټلي ګامونه اوچت کړي او په دې برخه کې د پام وړ پرمختګونه رامنځ ته شوي دي.

# امریکا: له ایران سره د اټومي لانجې د حل په موخه خپلو خبرو ته دوام ورکوو



د امريکا متحدو ايالتونو او ايران موافقه کړې چې د ايران د اټومي پروګرام په اړه به د غير مستقيمو خبرو دويم پړاو هم پيلوي. امريکايي چارواکي وايي، دا غير مستقيمې خبرې به په همدې اونۍ کې د اتريش په مرکز ويانا کې کېږي.

د دوی په وينا، د خبرو موخه دا ده، چې امريکا او ايران د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون ته بېرته ور وګرځي او پر ايران لګېدلي اقتصادي بنديزونه لېرې شي.

د يادونې ده چې د اروپايي ټولنې د منځګړو په مرسته د امريکا-ايران ترمنځ د غير مستقيمو خبرو لومړی پړاو وړمه ورځ تمام شو. د اروپايي ټولنې منځګړو به د دواړو خواوو پيغامونه يو بل ته لېږدول. برېټانيا، فرانسې، جرمني، چين او روسيې له ايران سره د تېرې سه شنبې په ورځ د ۲۰۱۵ز کال د اټومي تړون په اړه خبرې پيل کړې. د نړۍ د دغو زبرځواکونو او ايران ترمنځ خبرې د امريکا-ايران له خبرو جلا دي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت يوه لوړ پوړي چارواکي خبريالانو ته ويلي، چې د غير مستقيمو خبرو لومړی پړاو رغوونکی، رسمي او با نتيجه و، خو وايي چې د اروپايي ټولنې منځګړي د دواړو خواوو ترمنځ د خبرو پيغامونه يو او بل ته لېږدول.

دغه چارواکي زياته کړې: « موږ د هغو اساساتو په اړه چې د امريکا له لوري د هر ډول بنديز د لېرې کولو لارښوونه کوي، نظرونه تبادله کړل. امريکا د لېرې کېدونکو بنديزونه لېست ونه سپاره او ايران د هغو اټومي اقدماتو لېست چې غواړي د سرغړونو د ختمولو او لېرې کولو لپاره يې وکړي، وړاندې نه کړ.»

خو نوموړي وويل چې امريکا د هغو ټولو بنديزونو چې د ۲۰۱۵ز کال د موافقې او له دغې موافقې څخه ايران ته د ګټې رسولو خلاف دي، لېرې کولو ته چمتو ده. د هغه په خبره، اوس مهمه پوښتنه دا ده چې ايران هم باالمثل عمل ته چمتو دی که نه.

په ورته مهال د ايران د بهرنيو چارو وزارت مرستيال عباس عراقچي چې په دغو خبرو کې د ايران د پلاوي مشري کوي د ايران دولتي ټلوېزيون پرېس ته ويلي، چې ايران به له هغه وروسته په بشپړ ډول دغه تړون ته ور وګرځي چې له تړون څخه د امريکا له وتلو وروسته پر دغه هېواد لګول شوي بنديزونه لېرې شي.


خو امريکايي چارواکو دا غوښتنه رد کړې او ويلي يې دي چې د ولسمشر ټرمپ د حکومت له لوري ځينې لګول شوي بنديزونه پر خپل ځای دي.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




د امریکا پوځ استثنا ده. که دوی ته د غیرنظامي حللارې وويل شي، دوی ورته وايي چې موږ دومره پیاوړې وسلې خوشې نه دي جوړې کړې. ستا د تره زوی چې د څه شي له کبله څو شپې بېخوبه و، د دوی په کلتور کې د ساعت تېرې کيسې دي، لکه څرنګه چې دا کارونه دوی په عراق کې کوي او هوايي ډزې کوي. په افغانستان کې چې يې زړونه تنګ شي، يوه او بل ته وايي راځئ چې د باندې ووځو او پر ملکيانو ډزې وکړو. تر طالبانو دوی سرسخت دي. امریکايي پوځيان له نورو پوځونو ځکه بدل دي چې روزنه يې ترې بدله ده.
خو هند او پاکستان بيا داسې نه دي، دوی يوه او بل ته متقابل احترام لري.
سېنها: د ۷۱ کال د جګړې په اړه څه نظر لرې؟
دولت: د ٦٥ کال جګړه خو ډېره جدي جګړه وه.
دوراني: د ۷۱ کال جګړه يو په يو ناڅاپه پيل شوه او زه په دښته کې په ډېرې تېزۍ خپل پوځي يونټ ته ونښتېدم. د دښتې عمليات بريالي نه و. د يوه پوځي په نظر او د هغه چا په نظر چې تازه تازه يې د جګړې هنر زده کړی وي (زه په کوېټه کې په کمانډ اينډ سټېف کالج کې وم) همدا جګړه د زده کړې لويه سرچينه وه. له خپلو غلطيو زده‌کړه کېږي. په دې جګړه کې مو ډېر شيان زده کړل.
زما پوځي يونټ په دښته کې و. موږ چېسلمير ته ډېر ورنږدې و، دغه ځای دښته وه، کولا هې، ببرته راوګرځولو، ځګه عمليات په لوژيستيکي توګه نه حمايه کېدل.
دولت: کله چې زه په PMO کې وم، ملي دفاعي کالج ته به د کشمير په اړه خبرو ته ورغوښتل کېدم. يو ځل د خبرو په جريان کې يوه لوړرتبه افسر راته وويل چې ولې سياستمدارانو په ۲۰۰۱ کال کې پوځ له جګړې منع کړ؟ موږ جګړې ته ښه چمتو وو. ما ورته و ويل چې څه شی ددې لامل شو چې فکر وکړې چې د پوځ مخه سياستمدارانو ونيوله؟ آيا ته پوهېږې چې جنرالانو نه غوښتل چې جګړې ته لاړ شي، نه سياستمدارانو؟ ملکيانو د جګړې په اړه همدغه ټول شيان نه دي اورېدلي او د دوی په منځ کې دا احمقانه خبره رواج ده، چې موږ ټول غواړو جګړې ته لاړ شو او جګړه وکړو.
دوراني: آن په برلين کې په پګواش کنفرانس کې د موساد دوو پخوانيو مشـرانو څو ځله وويل، چې د ايران په خلاف جګړه کول مو تر ټولو احمقانه نظر و.
دولت: زما په وخت کې د موساد رئيس ايفرايم هالوې د سولې او خبرو اترو سرسخت مينه‌وال و. دوه-درې کاله مخکې دی ډېلي ته راغلی و او د سولې په اړه مو همداسې خبرې وکړې. خلک حيران وو، چې د موساد رئيس داسې خبرې کوي. خو هالوې چې د پنځو کلونو لپاره د موساد رئيس و په رښتيا همداسې کس و.

### شپږمه برخه
### نوې لويه لوبه

دې حقيقت ته په کتو چې د هند او پاکستان ګاونډ د تاريخ په اوږدو کې او همدارنګه په دې وروستيو کې د هغو هېوادونو ګټو ته ډېر مهم دی، چې د نړيوال ځواک د ترلاسه کولو په لټه کې دي، نو دغه خبرې د افغانستان په اړه دي. دوراني د اسامه بن لادن د پلټنې په اړه د متحدو ايالتونو د هلو ځلو په اړه خبرې کوي، همدارنګه دی او دولت په دې اړه هم خبرې کوي، چې ولې په اوس وخت کې افغانستان نه جوړېږي. دوی په دې اړه هم خبرې کوي چې ډونالډ ترمپ به له همدې سيمې سره څنګه چلند وکړي. همدارنګه دوی په دې اړه هم خبرې کوي، چې روسيه چې يو وخت د هند ښه ملګری هېواد و، څنګه اوس له پاکستان سره نږدې کېږي.
د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر ۲۹، بېنکاک: موږ د خپل هوټل په ديارسم پوړ کې د خبرو اترو لپاره ناست يوو، موږ به نن هڅه وکړو، چې له پرونيو خبرو اترو را پورته شوی منفي ذهنيت ختم کړو. قهوه او بېسکيټ او د ښاغلي دولت نه بدلېدونکې خوشبيني زموږ پروژه له سبوتاژ او وخت ضايع کېدو ژغوري.

### ۲٦
### د اسامه بن لادن پر سر معامله

دولت: زه پاکستان ته په وروستيو کې د کارونو په څو پړاوه وېشلو سره امتياز ورکوم. هر څنګه چې وو د اسامه بن لادن نيول يو غټ کار و. زه فکر کوم چې پاکستان د هغه په نيولو کې مرسته کړې ده، که چېرې داسې نه وي او يو څوک راځي ستا هېواد ته او بيا يو داسې څوک نيسي؛ دا به څنګه وي؟ چې پاکستان دا کار په ښه ډول تنظيم کړ.
سېنها: سيمور هرش هم همداسې وايي.
**دوام لري...**

# دانش د لوړو زده کړو موسسه

حميدالله حميدي




دانش د لوړو زده کړو موسسه چې د پروان ولایت په چاریکارو ښار کې موقعیت لري، په ۱۳۹۱ کال کې یې د بنسټ ډېره کېښودل شوه. د دانش د لوړو زده کړو موسسې د استادانو او تطبیقاتو د برخې مسوول، لطف الله فلاح وايي، دوی په لومړیو کې د اقتصاد او حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي درلودل، خو د مسوولينو د هڅو په پایله کې پر دې وتوانېدل چې په ۱۳۹۳ کال کې د طب پوهنځی هم رامنځته کړي او پر دې اساس دانش د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال په دریو پوهنځیو کې خپلې درسي چارې پر مخ وړي.
ښاغلي فلاح وويل، د دانش د لوړو زده کړو موسسې د طب پوهنځی معالجوي ډيپارټمنټ، اقتصاد پوهنځی یې د ملي اقتصاد او مالي او بانکي چارو ډيپارټمنټونه او حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې د قضا او څارنوالۍ او اداري او ډيپلوماسۍ ډيپارټمنټونه لري چې په ټوله کې یاده موسسه په دریو پوهنځیو او پنځو ډيپارټمنټونو کې خپل فعالیت تر سره کوي.
د ښاغلي فلاح په وینا، دانش د لوړو زده کړو په موسسه کې ټولټال ۱۵۰۰ محصلین پر زده کړو بوخت دي، چې په دې ډله کې ۳۵۰ ښځینه محصلینې او پاتې نور یې هلکان تشکیلوي.
ښاغلي فلاح زیاته کړه، دا چې دانش د لوړو زده کړو موسسې د اعتبار موندنې او تضمین کیفیت پروسه تر اوسه نه ده بشپړه کړې، له همدې امله تر دې دمه د ماسټرۍ پروګرام نه لري؛ خو هیله لري چې د یادې پروسې له بشپړېدو وروسته به د ماسټرۍ پروګرام هم رامنځته کړي.
ښاغلي لطف الله فلاح زیاته کړه، دانش د لوړو زده کړو موسسې تر دې دمه په خپلو اوو دورو کې شاوخوا ۷۰۰ محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.
د ښاغلي فلاح په وینا، د هېوادوالو اقتصادي او د ژوند شرایطو ته په کتو د نوو جذب کېدونکو محصلینو شمېر په دقیق ډول څرګند نه دی، خو په ټوله کې دانش د لوړو زده کړو موسسه هر کال د ۱۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي او د لوړو زده کړو زمینه ورته برابروي.
د دانش د لوړو زده کړو موسسې یاد مسوول زیاته کړه، که څه هم دوی په هېواد کې د لوړو زده کړو خصوصي موسسو په کچه خپلو محصلینو ته کم فیس په پام کې نیولی دی، خو بیا هم ځینې ځانګړي تخفیفونه لري. د بېلګې په توګه، دانش د لوړو زده کړو موسسه دولتي کار کوونکو، معلولینو، د شهیدانو کورنیو او په عامه سطحه باندې ښځینه محصلینو ته د پام وړ تخفیف ورکوي.
ښاغلی لطف الله فلاح وايي، دا چې کتابتون د هر علمي او اکاډمیک مرکز لپاره یو اړین شرط دی، نو دانش د لوړو زده کړو موسسه هم د خپلو محصلینو لپاره فعال کتابتون لري چې شاوخوا ۸۰۰۰ جلده ګټور او د پوهنځیو اړوند تخصصي کتابونه پکې شته، چې محصلین کولای شي خپل د اړتیا وړ معلومات ترې تر لاسه او وخت ناوخت یې مطالعه کړي.
ښاغلي فلاح همدا راز وویل، دوی په هېواد کې د ننه له ځینو خصوصي او دولتي پوهنتونونو سره علمي او اکاډمیکې اړیکې لري او تر څنګ یې ورسره د متقابلو اړیکو تفاهم لیکونه لاسلیک کړي دي. پر دې سربېره، دوی هڅه کوي چې په نږدې راتلونکو کې له ځینو بهرنیو پوهنتونونو سره هم علمي او متقابلې اړیکې ولري او د دوه اړخیزې همکارۍ په موخه ورسره تفاهم لیکونه هم لاسلیک کړي.
ښاغلي لطف الله فلاح وویل، دا چې خصوصي پوهنتونونو ته د ډیپلوم د ورکړې لړۍ یو څه له خنډونو سره مخ ده، نو دانش د لوړو زده کړو موسسې تر دې دمه خپلو فارغ شوو محصلینو ته د ډیپلوم پر ځای په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي سرټیفیکټونه او ترانسکرېپټونه ورکړي دي، څو د دندې په پیدا کولو او همدا راز د نورو زده کړو په وخت ترې استفاده وکړي.
ښاغلی فلاح وايي، دانش د لوړو زده کړو موسسه شاوخوا ۹۴ استادان لري چې په دې ډله کې یې ځینې استادان د دکتورا او ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او پر دې سربېره د دولتي پوهنتونونو ځینې استادان هم له دوی سره په تدریسي چارو کې ونډه اخلي او همکاري ورسره لري.
ښاغلي فلاح زیاته کړه چې دوی د محصلینو د علمي سویې د لوړاوي په موخه، ځینې پروګرامونه په پام کې نیولي دي. د بېلګې په توګه، د هر پوهنځي اړوند د عملي چارو لپاره ځانګړې فعالیتونه، د پروان ولایت له ځینو دولتي ادارو سره د عملي کار او تجربې تر لاسه کولو لپاره د همکارۍ تفاهم لیکونه، د طب پوهنځي محصلینو د عملي کار په موخه د یوه شل بستریز روغتون درلودل، له ځینو پوهنتونونو سره د همکارۍ او متقابلو اړیکو د تفاهم لیکونو درلودل چې پر اساس یې محصلین یو له بل سره تجربې شریکوي او یو ځینې نور علمي پروګرامونه، سمینارونه او ورکشاپونه چې محصلینو ته د پام وړ ارزښت او ګټه لري.
ښاغلي فلاح وويل، دانش د لوړ زده کړو موسسه د ورځې په دوو ټایمونو کې خپلې درسي چارې پر مخ وړي، چې یوه یې سهارنۍ دوره ده او بله هم ماښامنۍ دوره چې محصلین پکې خپلو درسونو ته حاضرېږي. د دانش په خبره، ځکه یې سهار وختي او ماښامنۍ دورې په پام کې نیولې چې ډېری محصلین یې د ورځې یا رسمي دندې لري او یا هم په شخصي کاروبار مصروف وي.
ښاغلي لطف الله فلاح همدا راز زیاته کړه، دوی د پوهنتون د لا بډاینې په موخه ځینې مهم پلانونه لري. د بېلګې په توګه، غواړي چې په نږدې راتلونکي کې دانش د لوړو زده کړو موسسه د پوهنتون کچې ته ارتقاع ورکړي چې د یاد پلان د عملي کولو لپاره یې د اعتبار ورکړې لومړۍ مرحله په بریالیتوب سره تر سره کړې ده او تمه لري چې ډېر ژر یې موسسه، پوهنتون ته ارتقاع پیدا کړي او پر دې سربېره په پام کې لري څو د ټولنې له اړتیا سره سم نور پوهنځي هم رامنځته کړي او همدا راز په راتلونکي کې د دانش په لوړو زده کړو موسسه کې د ماسټرۍ پروګرام ولري.
ښاغلي فلاح په خپلو خبرو کې وویل، دوی د بل هر علمي او اکاډمیک مرکز په څېر له دولت په ځانګړې توګه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي څو له یادو مرکزونو سره لا ډېره مرسته وکړي، د علمي او اکاډمیکي سویې د لوړاوي په برخه کې ورته لا ډېره پاملرنه وکړي او له لوړو زده کړو وزارت څخه یې هیله دا ده څو د استادانو د علمي سویې د لوړولو په برخه کې خصوصي پوهنتونونو ته لا ډېره پاملرنه وکړي. د نوموړي په خبره، لوړو زده کړو وزارت هغسې چې لازمه ده، له خصوصي پوهنتونونو سره د محصلینو او استادانو د علمي سویو په لوړولو کې همکاري نه کوي.
نوموړي زیاتوي، خصوصي پوهنتونونه په افغانستان کې نوې تجربه او تر ډېره یې هغو محصلینو ته د زده کړو زمینه برابره کړې، چې یا د ورځې رسمي دندې لري او یا هم غواړي چې دوه پوهنځي ولولي. د نوموړي په خبره، که لوړو زده کړو وزارت ورسره په دې برخه کې همکاري وکړي، د دوی د هڅو پایلې به لا ډېرې ښې او د هېواد په ابادۍ کې به یې یوځای له دولتي پوهنتونونو سره برخه اخیستې وي.

## اقتصاد

# سرنوشت هزینه های پنتاگون پس از حضور سربازان امریکایی

منبع: سی‌ان‌ان
نویسنده: اورین لیبرمن
مترجم: سیدجمال اخگر

علی رغم امضای توافق نامه دوحه در فبروری گذشته که خواستار عقب نشینی کامل نیروها و پرسونل آمریکایی تا اول ماه می از افغانستان بود، وزارت دفاع ایالات متحده نزدیک به یک میلیارد دالر قرارداد را با ۱۷ شرکت مختلف مربوط به کار در افغانستان پس از تاریخ خروج امضا کرده است.

در حال حاضر حدود ۱۸۰۰۰ پیمانکار در افغانستان حضور دارند که ٦۳۵۰ نفر آنها شهروندان آمریکا هستند.

با نزدیک شدن سریع مهلت مقرر برای خروج و عدم تصمیم رسمی کاخ سفید در مورد آینده قرارداد ها که برخی از آنها تاریخ انقضای تا سال ۲۰۲۳ و بعد از آن را دارند، نا مشخص است، اما اگر ایالات متحده طبق برنامه زمان بندی شده یا در پایان سال به گفته جو بایدن رئیس جمهور آمریکا از این کشور خارج شود، پنتاگون باید صدها میلیون دالر را با قراردادیان تصفیه حساب کند یا سال ها با آنها دعوا کند.

داو کیم، رئیس پیشین مالی وزارت دفاع آمریکا گفت: «اگر آنها به ارزش یک میلیارد دالر قرارداد داشته باشند، دوسیه های مملو از پرونده های قضایی را با خود حمل خواهند کرد، مگر این که مبلغی را که پیمانکاران در خواست می کنند، بپردازند.»

بایدن روز پنجشنبه گذشته اظهار داشت که ایالات متحده مهلت خروج اول ماه می را رعایت نمی کند، اما گفت که «سال آینده موجودیت سربازان آمریکا را در افغانستان تصور نمی کند.»

از بایدن به طور مشخص در مورد سربازان آمریکایی در افغانستان سوال شد، وی در اولین کنفرانس مطبوعاتی خود گفت: «ما مدت طولانی نمی مانیم.» «ما خواهیم رفت، اما سوال اینجاست که چی وقت.»

اما توافق نامه دوحه که در ۲۹ فبروری سال گذشته امضا شد، همچنین خواستار خروج «پرسنل غیرنظامی دیپلماتیک، پیمانکاران امنیتی خصوصی، مربیان، مشاوران و پرسنل خدمات حمایوی» می شود. آینده این قراردادیان و پرسنل به اندازه آینده عقب نشینی نیروها مبهم است .

تعداد پیمانکاران وزارت دفاع در افغانستان همچنان در حال کاهش است.

جگرن راب لودویک سخنگوی پنتاگون گفت، هنوز خیلی زود است که بگوییم کاهش پرسنل خدماتی و قراردادیان مشابه با کاهش احتمالی نیروها ادامه خواهد داشت، زیرا تا هنوز هیچ تصمیمی در مورد سطح نیروهای آینده در افغانستان گرفته نشده است.

پیمان کاران آمریکایی بیشتر از سربازان این کشور در افغانستان کشته شده اند از آغاز طولانی ترین جنگ آمریکا، قراردادیان هزینه بالاتری نسبت به اعضای خدمات نظامی پرداخت کرده اند.

بر اساس روزنامه‌ی واشنگتن پُست، در اواخر سال ۲۰۱۹ به تعداد ۳۸۱۴ پیمانکار در مقابل تقریباً ۲۳۰۰ سرباز در افغانستان کشته شدند.

بر اساس داده های سرویس تحقیقات کنگره، در اوج افزایش نیروهای نظامی افغانستان بین سال‌های ۲۰۱۱ و ۲۰۱۲، ۹۹۸۰۰ عضو خدمات نظامی آمریکایی و ۱۱۷۲۲۷ قراردادی در افغانستان وجود داشته است. اما با کاهش تعداد نیروها در افغانستان، تعداد قراردادیان از تعداد سربازان بسیار بیشتر شد.

هم اکنون تقریباً ۲۵۰۰ سرباز و ۱۸۰۰۰ پیمانکار در افغانستان حضور دارند. تقریباً نیمی از این قراردادیان در پایگاه در بخش تدارکات یا تعمیرات و حفظ و مراقبت کار می کنند، در حالی که بقیه نقش های امنیتی، آموزشی، ساختمانی و غیره دارند.

جان سوپکو، سرمفتش ویژه امور بازسازی افغانستان (SIGAR) گفت، قرارداد برای ثبات کشور و دولت افغانستان حیاتی‌تر از نیروهای آمریکایی و متحدان آن هستند.

سوپکو در اواسط ماه مارچ به مرکز مطالعات استراتیژیک و بین المللی گفت: «چرا؟ زیرا که دولت افغانستان به این قراردادیان و مربیان خارجی برای اجرای کار متکی است.»

«اگر عقب نشینی صورت گیرد به باور «سیگار» این برای موثریت نیروهای امنیتی- و بقای دولت افغانستان به مراتب مخرب‌تر از عقب نشینی نیروهای باقیمانده ما خواهد بود.»

پیمانکاران تجهیزات را حفظ و مراقبت می کنند، زنجیره های تأمینات را مدیریت می کنند، آموزش های ارتش و پولیس را انجام می دهند و تجهیزات پیشرفته ای را که به کشور آورده شده است، اداره می کنند.

سوپکو گفت: «از دسامبر، ارتش ملی افغانستان کمتر از ۲۰ درصد از دستورات کار تعمیر و حفظ و مراقبت خود را انجام می داد، که کاملاً کمتر از هدف ۸۰ درصد بود.»

پولیس ملی افغانستان حتی بیشتر از این عقب بود و ۱۲ درصد از ترمیم و نگهداری خود را به پایان رساند، که هدف متوسط آن ۳۵ درصد بود. وزارت دفاع حتی با نزدیک شدن مهلت خروج و زمان تصمیم گیری، قراردادهای بیشتری برای کار در افغانستان منعقد کرده است. برخی از این قراردادها ممکن است زیر عنوان بند «فسخ بدون دلیل قراردادهای ساختمانی» جایی که قراردادها «به نفع دولت» پایان می یابد، لغو شوند.

زکیم، که همچنین به عنوان هماهنگ کننده برنامه‌های غیر نظامی وزارت دفاع در زمان رئیس جمهور جورج دبلیو بوش خدمت می کرد، بیان کرد که پس از آن پیمانکار می تواند با دولت توافق کند، یا اگر توافق نکردند، از آن شکایت می کند.

زاکیم گفت: «واقعاً این چالش است. دولت نمی تواند فقط بگوید، «برو به جهنم.»

«نکته در مورد فسخ بدون دلیل و یک طرفه دولت در قراردادهای ساختمانی دولت رامجبور به پرداخت پیمانکار می کند.»

قراردادهای که پس از تعیین مهلت خروج منعقد شده اند

به تاریخ ۱۲ مارچ ، دقیقاً ۵۰ روز قبل از پایان مهلت اول ماه می، وزارت دفاع با «تلاش‌هابرای محافظت از نیروها» که شامل سیستم های هوایی بدون سرنشین، استخبارات، کشف و غیره می شود، در میدان هوایی بگرام در افغانستان قراردادی را به ارزش ۹.۷ میلیون دالر با شرکت "Textron Systems Corp" امضا کرد.

انتظار می رفت که کار آن تا مارچ ۲۰۲۲، مدتها پس از مهلت اعلام شده برای خروج نیروهای آمریکایی، به پایان برسد.

یک روز قبل، این اداره با خدمات عالی فدرال قراردادی به ارزش ۲۴.۹ میلیون دالر برای زیرساخت های فن آوری اطلاعات در افغانستان امضا کرد. تاریخ تکمیل این پروژه نیز مارچ ۲۰۲۲ است.

قابل ذکر است، دو قرارداد امنیتی که تا اواخر سال ۲۰۲۳ و اوایل سال ۲۰۲٦ تاریخ اتمام دارند، با ارزش ثابت ٦۸.۲ میلیون دالر با یک شرکت امنیتی خصوصی بنام " Aegis Defense Services" بسته شده است. این شرکت به درخواست سی‌ان‌ان برای اظهار نظر پاسخ نداد.

در مجموع، از زمان امضای توافق نامه دوحه در ۲۹ فبروری سال ۲۰۲۰، حداقل ۱۸ قرارداد در مجموع به ارزش ۹۳۱ میلیون دالر مربوط به افغانستان منعقد شده است که تاریخ اتمام آن پس از مهلت خروج در اول می است.

برخی از قراردادها، مانند معامله با شرکت Textron Systems Corp و Salient Federal Services ، منحصراً با افغانستان منعقد می شوند.

موارد دیگر مانند قرارداد ۳۸۳.۳ میلیون دالری اپریل ۲۰۲۰، مربوط به تولید تفنگ‌های نظامی A٤ M١٦ برای چندین کشور از جمله افغانستان است.

اکثریت قریب به اتفاق قراردادها – ۸۲۱.۲ میلیون دالر تحت دولت ترامپ به امضا رسیده است، که پس از امضای توافق نامه دوحه بین دولت و طالبان، خیلی سریع تعداد نیروها کاهش یافت .

دولت قبلی آمریکا، طی یک سال سطح نیروها را از حدود ۱۳۰۰۰ نفر به سطح فعلی ۲۵۰۰ نفر کاهش داد، و هدف ترک کامل افغانستان تا مهلت اول می را روشن کرد.

سه نفر از پیمانکارانی که CNN با آنها تماس گرفته حاضر به ارائه جزئیات در مورد برنامه های پسا اول ماه می نشدند .

یکی از آنها به الزامات امنیتی عملیاتی اشاره کرد و دیگری با اشاره به احتمالات مختلف گفت: «سناریوهای بالقوه زیادی وجود دارد و دانستن اینکه چه ممکن است اتفاق بی افتد مشکل است.»

## د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵۵ |
| € | ۹۱,۸ |
| Rp. | ۴۹۸ |
| ₹ | ۱۰٦۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵ |

## بيړنۍ شميرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# ولسي جرگه: د پاکستان د پارلماني پلاوي د سفر ځنډېدو په تړاو څېړنه کوو

د ولسي جرگې اداري پلاوي پرون کابل ته د پاکستان د پارلمان د رییس اسد قیصر او مل پلاوي د الوتنې د لغوه کېدو په تړاو خپلې یوې غونډې ته د امنیتي بنسټونو د مسوولینو تر وربللو وروسته، پرېکړه وکړه چې یو کمېسیون به دا موضوع څېړي.

د ولسي جرگې د دارالانشاء مشر عبدالقادر ځاځی وایي: «د مجلس پایله دا شوه چې د ولسي جرگه له خوا به یو پلاوی ټاکل کېږي او دا پلاوی به دا ټول مسایل له نږدې څېړي چې هغه ورځ دا مواد هلته څنگه موندل شوي، چا دا کار کړی، مثلا د هوانوردۍ او نورې برخې پوښتنې به کېږي چې کله دا څېړنې خلاصې شوې موږ به خپل راپور له تاسو سره شریک کړو.»

د ځاځي په خبره، د ولسي جرگې دغه مجلس ته د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو سرپرستان، د ملي امنیت رییس، د ملکي هوانوردۍ اداري او د حامد کرزي د هوايي ډگر امنیتي مسوولین د معلوماتو او وضاحت لپاره وربلل شوي وو.

د یادونې ده چې د پاکستان د پارلمان رییس اسد قیصر چې د تېرې پنجشنبې په ورځ د یو ١٦ کسیزه پلاوي په مشرۍ غوښتل کابل ته راشي، الوتکه یې تر کابله راغله، خو د حامد کرزي په نړیوال هوايي ډگر کې ورته د ښکته کېدو اجازه ور نه کړل شوه. افغان حکومت وړاندې د نومړي الوتکې ته د ناستې د اجازې نه ورکولو لامل امنیتي ستونزې بللې وې. د کابل د حامد کرزي هوايي ډگر سرحدي قوماندان محمد ریاض ارین ویلي چې د پنجشنبې په ورځ سهار مهال چې یوه ډله په دغه ډگر کې پر ساختماني چارو بوخته وه، چاودېدونکي توکي یې موندلي وو او په خبره یې، دوی هم د گواښ له امله ټولې الوتنې او ناستې وځنډولې.

په ورته مهال د پاکستان د پارلمان مشر اسد قیصر خپل هېواد ته له بېرته ستنېدو وروسته پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي: «له افغانستان سره یې اړیکې ارزښمنې دي، افغانستان ته سفر مې د امنیتي ستونزو له امله وځنډول شو، کله چې امنیتي وضع ښه شي، زه به ژر بېرته افغانستان ته ولاړ شم، پاکستان به په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره خپل رول ته دوام ورکړي.»

بهرنیو چارو وزارت هم د یوې اعلامیې په خپرولو ویلي چې د قیصر سفر به له سره تنظیم شي، خو د امنیتي چارو یو شمېر پوهان په دې باور دي چې ممکن، کابل ته د دغه پاکستاني چارواکي او ملگري پلاوي سفر یې د افغان حکومت له خوا د سیاسي شرایطو د حسایت له امله ځنډول شوی وې.

# پاکستان: په بېره د بهرنیو ځواکونو وتل به د افغان سولې بهیر زیانمن کړي

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت وایي، اسلام اباد له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د منظم او با مسوولیته وتلو ملاتړ کوي. د دغه وزارت ویاند زاهد حفیظ چودري وایي، د بهرنیو پوځیانو په بېړه وتل به ویجاړونکو یا گډوډونکو کسانو ته د فعالیت موقع ورکړي.

نومړي په اسلام اباد کې د یوې خبري ناستې پر مهال ویلي، چې افغانستان تېر کال د سولې برخه کې ښه پرمختگونه کړي او په خبره یې، دا باید وساتل شي او لا پیاوړي شي. هغه ویلي، چې په بېړه او له غوره پرته د خارجي پوځیانو وتل به هغو کسانو ته موقع په لاس ورکړي، چې د ده په وینا، د سولې بهیر ته زیان رسول غواړي.

د یادونې ده چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه د پاکستاني چارواکو نوی دریځ د دوی له پخواني هغه سره توپیر لري. تر دې وړاندې د تېرې جنورۍ په ۲۲مه د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شا محمود قریشي ویلي وو، د امریکا ولسمشر جوبایډن باید له افغانستانه د خپلو ځواکونو د ایستلو لړۍ روانه وساتي.

د امریکا او طالبانو ترمنځ د دوحې د سولې هوکړې پر اساس، امریکایي ځواکونه باید د روان کال تر مي میاشتې له افغانستانه ووځي، خو تازه سپینې ماڼۍ ویلي چې ولسمشر بایډن به ډېر ژر په دې تړاو خپله پرېکړه اعلان کړي.

که څه هم طالبان د امریکا له خوا د دې ژمنې په عملي کولو ټینگار کوي، خو د سپینې ماڼۍ ویاندې جین ساکي ویلي، دا مهلت ستونزمن دی او ژر به یې ولسمشر جوبایډن په اړه پرېکړه وکړي.

په ورته مهال په دوحه کې د طالبانو ویاند محمد نعیم ویلي، دوی له امریکایي چارواکو سره د دوحې تړون پر عملي کولو وخت نا وخته خبرې کوي. نومړي زیاته کړې چې د افغانستان د مسئلې هواری د همدې هوکړې په عملي کولو کې دی.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۲۱مه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۱۱مه | ۷۰٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۳۲ | ۲۲ | ۲۸ | ۳۰ | ۱۹ |
| ۸ | ۱٦ | ۸ | ۱۲ | ۱۷ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۰۱ | لمر ختل ۰۵:۲۸ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰٤:۳۲ | ماښام ۰٦:۲۱ | ماخوستن ۰۷:٤۵

## نړۍ




وزارت معارف:

## بیش از ۵۰هزار معلمین در مکتب‌ها کمبود استند



وزارت معارف می‌گوید که مکتب‌های کشور به بیش از پنجاه هزار معلمین نیاز دارند. بربنیاد آمارهای این وزارت ۹ اعشاریه ۷ میلیون دانش‌آموز در سراسر کشور تنها از سوی ۲۲۰هزار معلمین آموزش داده می‌شوند.

به‌گفتهٔ این وزارت، از این میان ۲۵ هزار معلمین در مکتب‌های کابل سرگرم آموزش‌دهی به شاگردان استند. نجیبه آرین، سخن‌گوی وزارت معارف گفت: «یکی از اولویت‌های ما جذب معلمان حق‌الزحمه است که تا بتوانیم با آغاز این پروسه مشکل کمبود معلمان را در سراسر کشور حل نمایم.»

با این همه، نبود ساختمان برای برخی از مکتب‌ها، کمبود کتاب و امکانات آموزشی و نیز پرداخت نشدن حقوق معلمان از چالش‌های دیگر برای دانش‌آموزان در کشور استند.

روبینا، معلم غیر رسمی در مکتب محمد فاروق در کابل، گفت: «فرق ما با معلمان رسمی چه است؟ یعنی آن‌ها هم درس داده‌اند ما هم درس دادیم. ما هم جدول جور کردیم آن‌ها هم جور کردند؛ اما به ما معاش داده نمی‌شود اما به معلمان رسمی داده می‌شود.»

رقیه، دانش‌آموز این مکتب نیز افزود: «ما از وزارت معارف می‌خواهیم که به ما معلم بیاورد که ما کمبود معلم داریم.»

این همه در حالی است که رئیس‌جمهور غنی همه‌ساله در مراسم آغاز سال آموزشی، وعده می‌دهد که چالش‌ها فراراه آموزش و پرورش در کشور برداشته خواهند شد.

تازه شمېرې:

## په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر نږدې درې میلیونو کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۳۵ میلیونه او ۴۷۱ زره او ۷۰۰ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۹۳۱ زره او ۹۱٦ کسان مړه شوي او له ۱۰۹ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۱میلیونه او ۸۰۴ زره او ۷۱۰ ته رسېدلې او ۵۷۴ زره او ۸۸٦ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز برازیل د ۱۳ میلیونه او ۳۷۵ زره او ۴۱۴ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د ۱۳ میلیونه او ۲۰۵ زره او ۹۲٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د څلور میلیونه او ۹۸۰ زره او ۵۰۱ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د څلور میلیونه او ٦۳۲ زره او ٦۸۸مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. برېټانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

راپورونه:

## په میانمار کې د تازه نښتو پرمهال ۳۴ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د راپورونو له مخې، په میانمار کې د پوځ او لاریونوالو ترمنځ په تازه نښتو کې څلور کسان وژل شوي او له دیرشو ډېر نور ټپیان شوي دي.

دغو کسانو ته هغه مهال مرګ ژوبله اوښتې، کله چې د میانمار پوځ په یانګون ښار کې پر لاریونوالو ډزې وکړې. په ورته مهال ځینو رسنیو د میانمار د روغتیایي چارواکو له خولې ویلي، چې په دغو ډزو کې لس تنه وژل شوي او له ۵۰ ډېر نور ټپیان شوي دي.

د یادونې ده چې دا په تېرو لسو ورځو کې د میانمار د پوځ له خوا د لاریونوالو پر وړاندې درېیم ځل دی چې ډزې کېږي او ګڼه مرګ ژوبله اړوي.

د تېرې چهارشنبې په ورځ هم د دغه هېواد پوځ په کلای او تاز ښارونو کې پر لاریونوالو ډزې کړې وې چې ۱۱ کسان پکې وژل شوي وو او تر ۲۰ ډېر پکې ټپیان وو. د راپورونو له مخې، په دې وروستیو کې د میانمار پوځ د لاریونوالو د ځورولو لپاره له درنو وسلو هم کار اخیستی، چې ګڼو کسانو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې ده.

په ورته مهال د امریکا په ګډون ډېریو غربي هېوادونو او ملګرو ملتونو د لاریونوالو پر وړاندې د میانمار د پوځ وروستي اقدامات غندلي دي.


## ژونـــد

## پوکو خپل ارزان بیه موبایلونه معرفي کړل




د شیاومي تر لاس لاندې پوکو کمپنۍ خپل دوه نوي ځیرک موبایلونه چې غښتلي ځانګړنې او ارزانه بیه لري، خرڅلاو ته وړاندې کړل. دغه ځیرک موبایلونه پوکو اېکس۳ پرو او پوکو اېف۳ نومول شوي دي. موږ دلته نن پوکو اېکس۳ پرو درې درپېژنو. پوکو اېکس۳ پرو: دغه ځیرک موبایل د ډیزاین په برخه کې پوکو اېکس۳ ته ورته دی، خو د پخوانۍ بڼې په پرتله پیاوړی پروسېسر او ګرافیک کارت لري. پوکو اېکس۳ پرو کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸٦۰ ډوله پروسېسر او اډرینو٦۴۰ ډوله ګرافیک کارت کارول شوی دی. دغه ځیرک موبایل ٦,٦۷ انچه اېل سي ډي ډوله فول اېچ ډي پلس ریزلوشن لرونکې مخ‌پاڼه لري چې ۱۲۰ هرټز ریفرېش رېټ او ۲۴۰ هرټز ټچ سمپلېنګ رېټ څخه ملاتړ کوي. پوکو اېکس۳ پرو به ٦ او ۸ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ او ۲۵٦ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼو کې خرڅلاو ته وړاندې شي. دغه ځیرک موبایل ۵۱٦۰ ملي امپیره بېټرۍ لري.

## د عمر خوړلو کسانو لپاره کوم خواړه ګټور دي



ښه او مناسب خواړه د هر عمر لرونکو اشخاصو ته اړین وي، خو د منځني او د ډېر عمر لرونکو کسانو لپاره بیا ښېخي اړین ګڼل کېږي. د خپل ځان د ښه او صحت منډ ساتلو لپاره ښه خواړه کلیدي رول لوبوي. د خوراکي توکو د مخکینیو عادتونو پرېښودل، خوراکي توکي بدلول او د فکر کولو او احساسولو په ډول کې د بدلون په راوستلو کې باید ځنډ رانشي. ښه خواړه دفاعي سیستم پیاوړی کوي، د رامنځته کېدونکو ناروغیو پر وړاندې مقابله کوي، وزن کموي، د زړه ناروغۍ، فلج، لوړ فشار، شکر، د هډوکو کمزوري او د سرطاني ناروغیو خطر کموي، دغه راز د صحت منډ اوسېدلو ترڅنګ د عمر په ډېرېدو کې هم مرسته کوي. هغه کسان چې د اومېګا ټري فیټي اسید درلودونکي خواړه خوري؛ لکه سابه، مېوې او د ماهیانو غوښه، نو د تمرکز د ښه والي لامل یې کېږي او د الزایمر یعنې د حافظې د ناروغیو خطر یې کمېږي. د ښو خوړو په سبب انسان ډېره انرژي لاسته راوړي او تر ډېره تازه پاتې کېږي، چې بیا یې طبیعت هم ښه وي، په ځان به باور هم لري او خپل ځان به ښه او خوشحاله احساسوي.

د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماستر ډېبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همدا راز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالي چمتو کوي.




www.azizibank.af
1515